# الف برخه: د غواوو(څارويو) د مديريت پيژندګلو

## لومړي لوست: د غوښينو غواوو د صنعت پيژندګلوي

**د زده کونکو د زده کړي موخي يا هدفونه:**زده کونکي به ددي لوست په پايله کي د لاندي موخو يا هدفونو سره اشنا شي، ددي لوست تشريحات به د لاندي موخو يا هدفونو د لاسته راوړني سبب شي:

1. عمومي غوښيني غواوي لست يا نوملړ کړئ.
2. دا تشريح کړئ چي په څه ډول سره غوښين غواوي ټاکل کيدلي شي.
3. د غوښي توليدونکي منظم ټايپونه مشخص کړئ.
4. د غوښي لپاره د بازار ټاکنه تشريح او روښانه کړئ.

**د لوست ورکولو لپاره وړاند يز شوي وخت:** ۱ ساعت

وړانديز شوي منابع يا سرچيني :**د دي لوست په تدريس کولو کي به لاندي منابع يا سرچيني موثري واقع شي**

Ensminger, M.E., *The Stockman's Handbook*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc., 1992.
Lee, Jasper S., *Introduction to Livestock and Companion Animals 2nd Edition*. Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc. 2000.
Internet keywords: beef cattle, beef breed, cattle, and animal care.

## د سامانونو، وسايلو يا وسيلو، لوازمو او اسانتياوو فهرست يا لړليک

- د ليکلو په خاطر سپينه يا تشه ورقه يا صفحه
- د پاورپواينټ د ارايي لپاره پراجکتور يا غټ ښودونکی
- د پاورپواينټ سلايدونه يا صفحي
- شفاف يا روښانه سلايدونه يا صفحي
- د زده کونکو د کاري ورقو کاپي ګاني

**اصطلاح ګاني :** لاندي اصطلاح ګاني په دي لوست کي وړاندي شوي دي.( د پاور پواينټ په دويمه شميره سلايد کي په ايټاليک او بولډ شکل سره ښودل شوي دي).

- (نمرات محوطه)Frame score
- (په عضلاتو کي د شحمو شتولي)Marbling
- (کار سرته رسول) Performance
- (ښکر لرونکي څاروي يا حيوانات) Polled
- (خالص يا سوچه نسل توليد کونکي نسل)Purebred breeders
- (تهيه کول) Supply
- (ځوان تغذيه شوي) Yearling feeders
- Cattle feedersګاو (مواشی) تغذيه شده
- Conformationتوافق (د تطبيق جوړښت)
- Cow-calf operation ( د غوا او خوسکي اداره کول)
- Cutability(د جسد يا تنې د پلورلو وړ برخه يا حصه)
- Demand(تقاضا يا غوښتنه)
- Dual-purpose breed(دوه مقصده نسل)
- Desirable traits(په زړه پوري ځانګړتياوي)
- Feeder calves(تغذيه شوي خوسکي)

**په زړه پوري تګلاره** : له یوې په زړه پورې تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست د زده کړي لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي: زده کونکي په څلور نفري ګروپونو باندې و ویشئ او هغوي ته لارښوونه وکړئ ترڅو چي د غوښینو نسلي غواوو مختلف ډولونه لست کړي چي زده کونکي د هغوي په برخه کي اوریدل کړي وي. زده کونکي باید لست د خپلو هم ټولګیوالو سره شریک کړي. تاسي ښایي چي غوښینو غواوو تصویرونه په ټولګي کي نصب کړئ ترڅو چي د زده کونکو پاملرنه را جلب کړئ. لوست ته د درس د لومړی موخي په لوري د لارښوني په اساس د حیواناتو مشهورو غوښینو نسلونو ته دوام ورکړئ .

## د محتویاتو خلاصه یا لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني

**لومړی موخه یا هدف:** عمومي غوښیني غواوي لست یا نوملړ کړئ.

وړاندیز شوي ستونزه یا مشکل: عمومي غوښیني غواوي کومي دي لست يې کړئ؟

د غوښینو غواوو مختلف نسلونه چي له مختلفو مملکتونو څخه دي. هغوي شامل دي پر آنګسAngus ، شیارولیس Charolais ، هیریپوردHereford ، پولید هیریپوردPolled Hereford ، لیموسینLimousin ، شارت هارن Shorthorn ،سیمینتالSimmental ،برهمانBrahman ،برانګسBrangus ، و بیف ماسترBeefmaster

**(د پاور پواینټ ۳ شمیره سلاید)**

A. د ابرډن انګس غواوي، په عمومي توګه د انګس غواو سره پیژندل شوي دي، ددي نسل اصلي ريښه یا منشا د سکاټلنډ له ختیځ څخه ده. د انګس نسل غواوي دوه مقصده ډیري مشهوري غواوي دي ددي لپاره چي هغوي حیاتي اهمیت لري او په محوطه یا غوجله کي ښه سرته رسیدلي شي. دا حیوانات یا ښاروي پولډ یا ***polled*** ښکر لرونکي تولد کیږي یا دا چي پرته له ښکرو څخه تولد کیږي. د هغوي اندازه یا سایز ډیر مناسب دی او له نورو نسلونو سره د پرتلي وړ دي او زیاتره تور او سره رنګ لرونکي وي. د سره پوستکي حیوانات نسبت تور پوستو ته زیات حرارت یا تودوخه نه جذبوي، له همدې کبله دوي د تودوخي په وړاندي زیات حساس وي.د انګس غواوي د ماربلنګ ***marbling*** له پلوه پيژندل کیږي،کوم شي چي د شحم شتوالي د حیوان په عضلاتو کي په نښه کوي.

**(د پاور پواینټ ٤ شمیره سلاید)**

B. د شیارولیز غواوو منشا یا ریښه د فرانسي د شیارولیز ایالت څخه اخستل شوي ده. دوي سور رنګه پوستکي لري او له سپین څخه تر روښانه علوفه یي پوري رنګ لري.د نورو نسلونو سره د مقایسي یا پرتلي له پلوه یو غټ نسل دي د نارینه نوعي یا ډول يي له ۹۰۰ څخه تر ۱۱۵۰ کیلو ګرامه وزن په بلوغیت کي لري او غوا يي د بلوغیت په وخت کي له ٦۸۰ څخه تر ۸۲۰ کیلو ګرامو پوري وزن لري. شیارولیز ښایي چي پولډ یا ښکر لرونکي او یا هم پرته له ښکرو څخه وي او د وزن له پلوه زیات عضلاعي پيژندل شوي دي. دا نسل د نسل اخستني

يا كراس بريډينګ له پلوه مشهور وي تر دي چي د بل نسل د عضلاتو اندازه د نسل اختلو په وخت كي كمه وي.

**(د پاور پواينټ ٥ شميره سلايد)**

C. د هيرپيورډ غواوي د انګلنډ هيواد له هيرپيورډ كاونټي څخه منشا يا ريښه اختستي ده دا هغه غواوي دي چي سپين مخ او سور رنګه جسم لري او په underline switch باندې سپين داغونه لري، له زنګنونو څخه ښكته، او په دواړو تاجونو او تخرګ لاندې هم نوموړي داغونه لري. دا نسل غواوي له يخ اقليم سره حساسيت لري ددي لپاره چي پوستكي يي نازكه دي. دا يو ښاخ لرونكي نسل دي او په اسانۍ سره نيول كيږي ددي لپاره چي په مناسبي اندازي سره وي او طبيعت يي ارام دي. د هيرپيورډ پولډ يا ښكرلرونكي نسل هغه ځانګړتياوي لري كومي هيرپيورډ نسل درلودلي.

**(د پاور پواينټ ٦ شميره سلايد)**

D. د ليموسن نسل غواګاني د فرانسي په شمالي ختيځ كي واقع دي. دا نسل د غواګانو له سپين څخه تر سور نصواري يا د نارنج رنګ ردلودونكي دي او په كوهان باندې چارچاپيره همدارنګه د اوربوز چاپيره ګرده روښانه ساحه لري. د ليموسن نسل دواړه پولډ يا ښكرلرونكي او بي ښكره نسلونه لري او اوس تور لينونو په غواګانو كي انكشاف كړي دي. دا نسلونه د غواوو د نازك جسد له پلوه او د اطرافي لوي ساحي له مخي پيژندل كيږي. د ليموسن په نسل كي كيوت ابيليتي ***cut ability*** او يا هم په جسد كي د پلور وړ حصه ډيره لوړه ده.

**(د پاور پواينټ ٧ شميره سلايد)**

E. شارټ هارن يوه دوه مقصده نسل دی په دي معني سره چي دا نسلونه د شيدو د توليد او غوښي دواړو توليد لپاره په عنعنوي شكل سره استعمال شوي دي. د دي نسل منشا يا ريښه له انګلينډ څخه ده او د دوي د نوم علت د نسل اختستني له تمرين څخه دي د دي نسل د غواګانو ښكر لنډ وي. د شارټ هارن نسل غواګاني امكان لري چي سور، سپين او يا هم په پوخ سور رنګ سره وي اوامكان لري چي ښكر لرونكي يا پولډ وي. دا يو لنډ نسل دی او مور كيدو ښه ځانګړتيا او توانايي لري.

**(د پاور پواينټ ٨ شميره سلايد)**

F. د سيمينتل نسل غواګاني له لويديځ سويتزرلينډ څخه منشا يا ريښه اخستوه ده په كوم ځاې كي چي دا نسل د هغي له ورته نوم لرونكي محل څخه په لاس راغلي دي. دا نسل د غواګانو ډير عمر لرونكي دي، د رنګ له پلوه د دي نسل غواګاني سپين مخ لري چي د تل لپاره وي او سپين او سره داغونه او يا هم سره نصواري داغونه په جسد باندې لري. دا په دي نوعه هغو نژادونو انكشاف كړي دي چي تور رنګ لري. دواړه پولډ او ښكر لرونكي په دي حيواناتو كي شتون لري او د غواګانو دا نسل د چټكي نمو، نازكه عضلاتو، او د مختلفو اقليمونو په وړاندې د توانايي لرلو له پلوه مشهور دي.

**(د پاور پواينټ ٩ شميره سلايد)**

G. د برهمان نسل غواګاني له څو حيواناتو څخه وروسته کوم چي له هند نه راوړل شوي دي د امريکا په متحده ايالاتو کي منشا او ريښه اخستي ده او په څو بريتانيوي نسلونو باندې يي نسلګيري شوي ده. د برهمان نسل غواګاني په عمومي ډول سره د کراس بريډينګ په پروګرام کي استعماليږي.

کوم نسل چي زيات انکشاف(هايبريډ) يا مشهور دوه رګه يي رهبري کړي وي. د دي نسل رنګ خاکي او سور او ځني وختونه تقريباً تور کيدلي شي. دا يوه اسانه مسله ده چي د برهمان نسل معرفي کړو ددي لپاره چي پوستکي يي سست، په اوږو باندې لوړ کوهان لري، او د سستي ساحي له پلوه مشهور دي. ځني وختونه د زيبو په نامه سره هم ياديږي، د برهمان غواګاني ددي لپاره مشهوري دي چي د ناروغيو او حشراتو په وړاندي، مقاومي دي، د تودوخي په وړاندې مقاومت لري، او په چټکي سره وزن اخلي، او د جسد د کيفيت له مخې ډير مشهور دي. دا نسل بي قاعدې طبيعت لري، ولي ددي توان لري چي په نا چيزه څرځاي کي په ښه ډول سره وڅريږي.

H.

**(د پاور پواينټ ۱۰ شميره سلايد)**

I. د برانګس نسل د انګس او برهمان نسلونو د نسل اخستني په نتيجه کي منځته راغلی دی چي په دي نسل اخستنه کي دري پر اته برهمان او پنځه پر اته برخي له انګس څخه منځته راغلي دي. دا نسل د غواګانو پولډ دي او ددي نسل د غواګانو د بدن رنګ ډير تور دي. د جنتيک له پلوه دا نسل غواګاني ډير خواص لري کوم چي د انګس او برهمان نسلونو کي شتون درلود.

**(د پاور پواينټ ۱۱ شميره سلايد)**

J. د بيف ماسټر نسل د غواګانو هغه نسل دی چي په امريکا کي يو پر دوه له برهمان، يو پر څلور برخي له شارټ هارن او يو پر څلور برخي له هيرپيورډ څخه انکشاف کړي دي. د دي نسل رنګونه مختلف کيدلي شي، مګر سور رنګ په دي نسلونو کي يو اصلي رنګ دی. د بيف ماسټر نسل غواګاني امکان لري چي ښکرونه ولري او يا هم په طبيعي ډول سره پولډ وي. دا يو ډير سخت نسل دی او د شيدو د ښه توليد له پلوه پيژندل کيږي. د بيف ماسټر نسل غواګاني له دي کبله چي ښه طبيعت لري، قوي دي، زيات وزن لري او په چټکۍ سره وزن اخلي، زيات مشهور دي.

K. د دي لپاره چي غوښين غټ نسلونه د حيواناتو تر بحث لاندې ونيول شي له **TM: 1-1** څخه استفاده وکړئ. په دي خاطر چي زده کونکي په مختلفو نسلونو کي توپير وکولي شي تاسي کولي شئ چي يو تصوير راوړۍ کوم چي د غوښينو غواګانو نسلونه ولري په همدې ترتيب سره امکان لري چي د محلي غواګانو له نسلونو څخه معلومات لاسته راوړي او موخه يا هدف په ښه ډول سره زده کړي چي دا يو ښه او لوړ کار دي چي د محلي غواګانو تصويرونه د زده کونکو لپاره وښودل شي.

**دوهمه موخه يا هدف:** دا تشريح کړئ چي په څه ډول سره غوښين حيوانات ټاکلي شو.
**وړانديز شوي ستونزه يا مشکل:** مونږ په څه ډول سره پوهيږو چي کوم غوښين حيواناتو له نورو څخه ښه دي؟

**(د پاور پواينټ ۱۲ شميره سلايد)**

II. ددي لپاره چي خپله رمه يا ګله ښه کړو، نو مونږ مجبور يو ترڅو چي داسي حيوانات وټاکو کوم چي د غوره او په زړه پوري ځانګړتياوو درلودونکي دي. د هغوي په زړه پوري ځانګړتياوي د کومو چي په مارکيټ يا بازار کي

غوښتنه زياته ولري. د حيواناتو اکثريت ټاکل د هغوي د ريکارډ په اخستلو باندې سرته رسيږي.
***Conformation*** په حيواناتو کي شکل، فورم او ټايپ تشريح کوي.

III. ***Performa*** د حيوان د توليد په باره کي، د مور له شيدو څخه بيليدل، وزن اخستل او د حيواناتو قوي کيدل تشريح کوي.

**(د پاور پواينټ ۱۳ شميره سلايد)**

A. په گله يا رمه کي د حيواناتو راوستلو لپاره يوه لاره frame score هم ده. دا يوه قاعدوي يا بنسټيزه اندازه ده چي په ۲۰۵ ورځو کي په عملي توګه يو حيوان ارزيابي کيږي. له يو څخه تر اوو پوري ماشينونه د وزن کولو لپاره استعماليږي ترڅو چي frame score مشخص کړل شي

B. په همدي ترتيب سره د conformation نمرات امکان لري چي په هغه حيوان چي له ۱ – ۱۷ اندازه ولري، مشخص کړل شي. هغه نمري چي له ۹ – ۱۱ څخه وي يو ښکته وسط دي، او ۱۲ – ۱٤ منځني دي، او له ۱۵ – ۱۷ يو لوړ يا پورته وسط دی.

**(د پاور پواينټ ۱٤ شميره سلايد)**

C. هر کله چي مونږ حيوانات انتخابوو يا ټاکو، نو مونږ مجبور يو ترڅو چي دا درک کړو چي هيڅ يو نسل له نورو څخه غوره او بهتر نه دی. تاسي ضرورت لري ترڅو چي تصميم ونيسئ چي کوم اولويتونه ستاسي لپاره مهم دي ترڅو يي د سرمايي په اساس يو ښه او په زړه پوري نسل وټاکئ. له دي څخه علاوه د يوه نسل انتخاب، ترڅو چي غواګاني په ښه ځانګړتياوو سره وساتل شي. ښه اداره په دي شامله ده چي د تغذيوي ښه معيارونه شتون ولري، د ژوند کولو لپاره ښه شرايط شتون ولري،او په پرلپسي توګه د حيواناتو له صحت څخه ليدنه صورت ونيسي،او ستاسي ارزيابي کول ښه دي ترڅو چي په عملي توګه حيوانات تنظيم کړل شي.

**(د پاور پواينټ ۱۵ شميره سلايد)**

D. اخري اجرا کوني او فکر کول په گله يا رمه کي د حيواناتو د انتخابولو لپاره چي ښه يي کړو دا ده چي هغه حيوانات انتخاب کړو کوم چي ښه او لوړ خواص ولري. دا امر حيوانات ډاډمن کوي چي له ناروغيو او جنتيکي مشکلاتو څخه پاک دي او تاسي ددي توان پيدا کوي ترڅو چي د حيوناتو ريکارډ بررسي کړي چي دا حيوانات ستاسي د گلي يا رمي لپاره گټور دي.

د **TM: 1-2** له استعمالولو څخه کار واخلئ له دي لاري څخه د غوښينو حيواناتو په ټاکنه يا انتخاب کي بحث وکړئ

دريمه موخه يا هده: د غوښي د توليد نوعي يا ټايپونه مشخص کړئ.
وړانديز شوي ستويزه يا مشکل: زمونږ د ضروريات لپاره کوم توليدي ټايپونه يا نوعي غوره او بهتره دي؟

**(د پاور پواينټ ۱٦ شميره سلايد)**

IV. د غوښي د توليد سيستم لپاره دري اساسي نوعي يا ډولونه شتون لري. لومړني ټايپ يا نوعه د غوا او خوسکيcow-calf توليدونکي نوعه ده. دوهم ټايپ هغه دي چي په مناسب ځاي کي تغذيه کيږي او دريم ټايپ هغه دي چي پلار او مور يي له عين نسل څخه وي. مخکې له دي څخه چي

تصمیم ونیسئ چي کوم یو ټایپ له دي سیستم څخه د تاسې لپاره غوره او بهتره دي، خپل ځآن ډاډمن کړئ چي تاسې د غوښې د تولید نقصانونه او ګټي تجزیه کړي دي ددي لپاره چي ډاډمن شي چي دا یوه ګټوره لاره ده ترڅو چي خپله لاسته راوړنې ته انکشاف ورکړئ. تاسې په همدې ترتیب سره غواړئ چي په محلي یا ځایي مارکیټ کي دا ډولونه وګورئ او خپل تصمیم ونیسئ چي د کومو اړتیاوو سره مخامخ به شي او کوم شیان مو باید اماده کړي وي.

(د پاور پواینټ ۱۷ او ۱۸ شمیري سلایډونه)

A. د غوا او خوسکي ( *cow-calf*)په سیستم کي بالغي غواوي ساتل کیږي ترڅو خوسکي تولید کړي او په نورو تولیدونکو باندي وپلورل شي. په دي سیستم کي هغه غواوي ساتل کیږي چي هر کال خوسکي تولیدوي په عادي ډول سره نا وخته په ژمي یا هم د پسرلي په پیل کي او په دوه لارو سره پلورل کیږي.تغذیه کړي شوي خوسکي چي یو کلن دي تر هغه وخته پوري تغذیه کیږي ترڅو چي په هغو کسانو باندي وپلورل شي چي د غوجلي یا محوطي درلودونکي وي. دا خوسکي تر د قصابي کیدلو تر وخته پوري ساتل کیږي او په نورو تولیدونکو باندي پلورل کیږي په هغه ځآي کي چي دا خوسکي تر د قصابۍ وزن پوري وساتل شي د غوا او خوسکي په سیستم Cow-calf کي څاروي په ځمکه باندي څرول کیږي او نسبت نورو سیستمونو ته کم مزدور کار ته اړتیا لري. دا یو سیستم دي کوم چي پیل کول یې اسان دي ځکه چي کمي پانګوني ته اړتیا لري. په دي سیستم کي د اسانتیاوو لپاره اړتیاوي او کم سامانونه شتون لري ددي لپاره چي له ځمکي څخه کار اخستل کیږي په کومه چي زراعتي یا کرنیز نباتات شتون ونه لري. یوه بله ګټه یا فایده چي په دي سیستم کي شتون لري دا ده چي دوي په کلني توګه تولیدیږي او دي ته اړتیا نه لري چي د بلي رمي یا ګلي لپاره حیوانات وپیرودل شي. تاوان یا نقصان چي په دي سیستم کي شتون لري دا دی چي په زیاتي اندازي سره ځمکي ته اړتیا لري او له بله پلوه د خلکو غوښتنه د خوسکي لپاره په هغه وخت کي چي تاسیي یي پلوري کمه ده، له دي کبله زیاته ګټه یا فایده په لاس نه راوړل کیږي. بله ستونزه یا مشکل د مور له شیدو څخه د بیلدو مسله او همدارنګه د خوسکي د سایز یا اندازې مسله ده. تاسي باید په دي تجارتي سیستم کي دا په یاد ولرئ چي د زیاتي مودي لپاره پیسي په لاس نه راوړي تاسي باید چي د خوراکي، منرال، د وترنر ډاکټر فیس، او نورو اړتیاوو لپاره هره ورځ کافي بودیجه ولري.

(د پاور پواینټ ۱۹ او ۲۰ شمیري سلایډونه)

B. تغذیه کیدونکي غواوي، هغه تولیدونکي دي چي د مارکیټ په برخه کي د غوښینو حیواناتو لپاره تغذیه کیږي. په دي سیستم کي ځوان خوسکي او یا هم تغذیه شوي خوسکي پیرودل کیږي او کوښښ کیږي ترڅو چي په ډیر کم وخت کي د بیا ځل لپاره عرضه کړل شي ددي سیستم لپاره ډیره لوړه اساسي سرمایه یا پانګه په کاره ده ددي لپاره چي خوراک ته اړتیا شتون لري ترڅو چي د لوړ کیفیت لرونکي وي، د ساتني لپاره کور او نورو اړتیاوو او لوازمو ته اړتیا لیدله کیږي د غوا او خوسکي cow-calfسیستم ته نسبت په دي سیستم کي تولید کم وي ددي لپاره چي تاسي نه شي کولي چي دا حیوانات په ٤-٦ میاشتو په وخت کي تبدیل کړي. له دي سربیره لوړه خوراکه، کور او نوري اړتیاوي، د کارګر مزد او موټر ډیر لوړ قیمت لري. له دي څخه علاوه ټول مصرفونه او اړتیاوي د لاسته راوړني لپاره دا یو ضروري امر دی چي یو ښه مدیر په دي سیستم کي شتون ولري. په قیمتونو کي بدلون یو بل خطر دی چي په دي سیستم کي شتون لري.

(د پاور پواینټ ۲۱ او ۲۲ شمیري سلایډونه)

C. ***Purebred breeder’s*** هغه تولیدونکي دي چي د سوچه یا خالص نسل لپاره غواو ساتي او د غوا او خوسکي cow-calf سیستم لپاره غوایي او هم سیمین د بدیل معشیت په شکل سره

برابريږي. له دي لاري څخه د ګلي لپاره جينيتيکي انکشاف برابريږي. د توليدونکو لپاره اساسي قيمت د خالص يا سوچه نسل په برخه کي لوړ دي له دي پلوه هغه حيوانات يا څاروي چي غوره جنتيکي خواص يا ځانګړيني ولري قيمته وي نسبت هغه حيواناتو يا څارويو ته چي منځني جنتيکي خواص يا ځانګړيني ولري. همدارنګه د حيواناتو د توليد لپاره کوم چي د لوړ کيفيت لرونکي وي، هغوي لپاره ډير وخت ته اړتيا ليدل کيږي. ځني وختونه ښايي چي کلونه کلونه وخت په بر کي ونيسي دا ځکه چي د توليد شوي ځوان نسل لاسته راوړني ريکارډ کړل شي. په همدي ترتيب سره يو تحصيل کړل شوي مدير ته اړتيا ده ترڅو چي يو ګټور نسل توليد کړي او سوچه يا خالص نسل منځته راشي.

**TM: 1-3** د يوي قاعدي په توګه تر بحث لاندې ونيسئ او د هر ټايپ يا نسل د ګټو او تاوانونو په برخه کي په ټولګي کي خبري اتري وکړئ

ځلورمه موخه يا هدف: د غوښي لپاره د بازار يا مارکيټ ټاکنه

**وړانديز شوي ستونزه يا مشکل:** مونږ د غوښينو غواوو د غوښي لپاره کوم مارکيټ يا بازار انتخاب کړي دي.

**(د پاور پواينټ ۲۳ او ۲٤ شميري سلايدونه)**

V. دټايپ(نسل) د سيستم او موقيعت په اساس تاسي، ښايي چي د مارکيټ له سيستم سره ډيره اشنايي ولري، او ښايي چي تاسي له هغي شي سره چي د هغي توانمندي لري، محدود وي. کومه ستونزمنه يا مشکله موضوع نه ده تاسي په څه ډول سره دا تصميم نسي چي خپل توليد وپلورئ،تاسي بايد چي د تل لپاره د تسليم کولو قوانين او د مارکيټ د نرخ اړتياوي بررسي کړي. ***Supply*** د توليد ټوله اندازه يا مقدار دی چي په هر معين وخت کي په لاس کي وي. ***Demand*** هغه مقدار يا اندازه ده چي په معين وخت کي يا ورکړل شوي وخت کي د معين قيمت لپاره به وپيرودل شي. د موسمي قيمت نموني شتون لري چي تاسي دا توانايي لرئ ترڅو يي بررسي کړي چي حيوانات يا څاروي کوم چي ستاسي دي د مارکيټ لپاره په کوم وخت کي مناسب دي ترڅو چي لازمه فايده يا ګټه په لاس راوړل شي. تر دي مهاله په دي ځاي کي د غوا د غوښي لپاره لاري د مارکيټ له پلوه شتون لري،تاسي دي ته اړتيا لرئ ترڅو د مارکيټ د قيمتونو په اساس ټاکنه وکړئ چي کومه نوعه يا ډول ستاسي لپاره غوره او بهتر دی، د مارکيټ مناسب وخت،او د مارکيټ مناسب نرخ .

**(د پاور پواينټ ۲۵ شميره سلايد)**

A. ستاسو د غوښينو غواو لپاره مارکيټنګ يا بازار موندني لپاره يوه غوره لاره عبارت ده له د سوچه يا خالص نسل له پلورلو څخه. د حيواناتو يا څارويو د خالص يا سوچه نسل پلورل دي ته ميلان لري ترڅو چي په خصوصي يا ځانګړي شکل سره په محلي يا ځايي مارکيټونو کي وپلورل شي. په ځني وختونو کي هغه کسان چي نسل اخستنه کوي، حيوانات يا څاروي د عامي لاري څخه پلوري. که چيري تاسي غواړي چي حيوانات يا څاروي په دي لاري سره وپلوري، نو تاسي به دي ته اړتيا ولرئ ترڅو د هغي د قيمت په برخه کي ښه فکر وکړئ او د هغه شخص په برخه کي چي مزد اخلي کوم چي شيان پلوري هم فکر وکړئ.

B. محلي يا ځايي بازارونه له دي پلوه مشهور دي چي د پيرودونکو لپاره اسانه دي. زياتره واړه يا کوچني توليدونکي دا مارکيټونه يا بازارونه انتخابوي له دي کبله چي نرخ د خرصلاو يي

دقیق نه وي یعني د بدلیدني وړ وي په محلي یا ځآیي مارکیټونو کي، تغذیه شوي غواوي او هغه غواګاني چي د حلالي یا قصابۍ لپاره دي د هغو کسانو لاسونو ته لویږي چي د هغي د اخستلو خواهش لري.

(د پاور پواینټ ۲٦ شمیره سلاید)

C. د غواګانو د پلورلو لپاره بله لاره هم شتون لري چي دوي په مستقیمه توګه پلورل کیږي. زیاتره تولیدونکي له مستقیم پلور څخه کار اخلي ترڅو چي کمیشن کار ته د پیسو اخستلو څخه مخنیوي وشي.

د زده کونکو سره د مارکیټنګ یا بازار موندني د سیستم په برخه کي د غوښینو غواو لپاره کوم چي ستاسي په محل یا ځاي کي شتون لري، بحث وکړئ. زده کونکي کولي شي چي له **WS: 1-1** څخه د محلي یا ځآي غوښینو غواګانو د قیمت د تعقیب لپاره کار واخلي.

بیا کتنه/ لنډیز: لنډیز باید په هغو موخو یا هدفونو باندي متمرکز وي کوم زده کونکو د درس یا لوست په جریان کي یادي کړي دي(د پاورپواینټ ۲۷ شمیره سلاید). له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چي هغه شیان تشریح کړي کوم چي له موخو یا هدفونو سره تړاو ولري.

تطبیق: تطبیق کیدلي شي چي د زده کونکو د کاري ورقو په کاپي ګانو باندي شامل وي.
WS: 1-1 د غوښي قیمتونه په مارکیټ یا بازار کي

ارزیابی: ارزیابی باید د زده کونکو په لاسته راوړنو باندي متمرکزه وي کومه چي له درسي موخو څخه وي. په دي برخه کي مختلف تخینکونه د استعمال وړ دي، د بیلګي په توګه د زده کونکو اجرا کوني په غوښتنیزو فعالیتونو باندي. په لیکلي بڼه امتحان یا ازموینه ددي درسي مواد شامله دي.

## مطابقت یا اړیکه ورکول

1. E
2. F
3. D
4. B
5. A
6. H
7. G
8. C

## خانه خالی یا تش ځایونه ډک کړئ

1. (د جسد د پلورني وړ حصه یا برخه)
2. تقاضا (غوښتنه)
3. دوه مقصده نسل
4. (زړه راښکونکي ځانګړتیاوي)
5. د محوطي نمري
6. ښکر لرونکي حیوانات یا ښاروي

## لنډ ځواب:

زده کونکي کولي شي چي لاندي درست ځواب امتخاب یا وټاکي.
انګس Angus، شیرولیازCharolais , ، هیریپورډHereford , ،پولډ هیریپورډ Polled Hereford ،
لیموسنLimousin , ، شارټ هارن Shorthorn ،سیمینټال Simmental ،برهمان Brahman ،
برانګس Brangus او بیف ماسترBeefmaster

ساده امتحان(ازموينه)　　　　　　　　　　　　　　　　　　　نوم: ____________________

**د غوښينو غواوډ صنعت پيژندګلو**

مطابقت يا اړيکه ورکول: اصطلاح ګانو د هغوي له درستو ځوابونو سره اړيکه ورکړئ. د اصطلاح مربوطه توري د هغي د تعريف په مخ کي نوشته کړئ.

a. تغذيه شوي حيوانات(څاروي)
b. تقاضا يا غوښتنه
c. سوچه يا خالص نسل
d. د غوا او خوسکي اداره
e. تغذيه شوي خوسکی
f. ځوان تغذيه شوي
g. توافق (د تطبيق ترکيب)
h. په عضلاتو کي د شحم شتون

___ .1 يوکال عمر لرونکي حيوانات يا څاروي هرکله چي د مور له شيدو څخه بيليږي تر د تغذيي تر وخته پوري کوم چي په محوطه لرونکو باندې پلورل کيږي،په هغه ځاي کي چي دا حيوانات تر د حلالي وخت پوري ساتل کيږي.

___.2 هغه خوسکي چي د يو او دوه کالو ترمنځ عمر ولري په توليدونکو باندي پلورل کيږي او د حلالي تر وزن پوري تغذيه کيږي او يا هم تر د پاي وخته پوري تغذيه کيږي.

_____ .3 د بالغو غواګانو ساتنه او پالنه ترڅو چي خوسکي توليد کړي او په نورو توليدونکو باندي (تجارانو) وپلورل شي

______. .4 هغه اندازه يا مقدار چي په يوه معين وخت او معني نرخ سره کوم چي سپارښتنه يي شوي ده پيرودل کيږي.

______ .5 د غوښينو حيواناتو هغه شمير توليدونکي چي د مارکيټ او حلالي تر وخته پوري حيوانات تغذيه کوي

______ .6 په عضلاتو د زړه راښکونکي شحمو موجوديت يا شتوالي

______ .7 د يوه حيوان شکل، فورم، قيافه او يا هم ټايپ

______ .8 هغه توليدونکي چي ګله يا رمه د خالص يا سوچه نسل په موخه ساتي، دوي ځايو ناستي غوايان او يا هم سيمين د غوا او خوسکي cow-calf سيستم لپاره وړاند کوي.

**خانه خالی يا تش ځايونه ډک کړئ: له کلمو يا کلمي څخه په استفادي سره لاندې بياني تکميل يا بشپړي کړئ.**

.

1. د لیمو ښین په نسل کې ________________ او یا هم د جسد د خرصلاو وړ حصه یا برخه ډیره لوړه ده.
2. ________ د تولید ټول مقدار یا اندازه ده چې په هریو معین او معلوم وخت کې په لاس کې وي او ________________ هغه مقدار یا اندازه ده چې په معین او ورکړې شوي وخت کې د معین یا ټاکلي قیمت د پیرودني لپاره وي.
3. شارټ هارن ____________ ____________ ____________ په دي معني سره چې دا نسل د غواګانو د شیدو د تولید لپاره او د غوښې د تولید لپاره په عنعنوي توګه استعمال شوي دی
4. ________________ دی چې په مارکیټ یا بازار کې ورته تقاضا یا غوښته شتون ولري
5. ____________ یوه قاعدوي اندازه ده چې په ۲۰۵ ورځو کې په عملي توګه یو حیوان ارزیابي کیږي.
6. هغه حیوانات یا څاروي تشریح کوي چې په طبیعي توګه کوم ښکر ونه لري.

لنډ ځواب: د معلوماتو په وړاندې کولو سره لاندې سوالونو ته ځوابونه وړاندې کړئ.
د غوښینو غواو څخه پنځه عامي نوعي یا ډولونه کوم دي؟

# د غوښينو غواګانو پنځه نسلي نوعي

- Angus آنگس
- Charolais شياروليز
- Hereford هيريپورد
- Polled Hereford پولد هيريپورد
- Limousin ليموسين
- Shorthorn شارت هارن
- Simmental سيمينتال
- Brahman برهمان
- Brangus برانگس
- Beefmaster بيف ماستر

TM: 1-2

# د ګلې یا رمې د بهبود لپاره د حیواناتو ټاکنه

- زېږه راښکونکي ځانګړتیاوي هغه دي چي په مارکیټ یا بازار کي ورته تقاضا یا غوښتنه موجوده وي. اکثریت د حیواناتو انتخاب یا ټاکنه د conformation په اجرا کولو او د ریکارډ performance په اخسلتو سره کیدلي شي.
- . ***Conformation*** په حیواناتو یا څارویو کي شکل، فورم او ټایپ تشریح او روښانه کوي.
- ***Performance*** د حیوان د بیا ځل لپاره تولید،د مور له شیدو څخه بیلیدل، او وزن اخستل او د حیواناتو قوي والي تشریح کوي.
- Frame score دا یوه قاعدوي اندازه ده چي په ۲۰۵ ورځو په او ږدو کي په عملي توګه یو حیوان ارزیابي کیږي
- هر کله چي مونږ حیوانات انتخابوو، مونږ مجبور وي ترڅو چي دا درک کړو چي هیڅ یو نسل د نورو څخه غوره او بهتره نه دي. تاسي دي ته اړتیا لرئ چي تصمیم ونیسئ چي کوم له اولویتونو څخه ستاسي لپاره مهم دي ترڅو چي د سرماي یا پانګي په اساس یو نسل انتخاب کړئ.
- حیوانات را انتخاب کنید که خواص تولیدی خوب داشته باشد.این امرباعث اطمینان میگردد که حیوانات از امراض و مشکلات جنتیکی عاری هستند.

# د غوښي توليدي سيستمونه

## **Cow-calf** غوا او خوسکي

- فوايد(ګټي)
  - له ځړ ځاي څخه استفاده کوي
  - مزدور کار ته په کمه اندازې سره اړتيا لري
  - کمي پانګوني ته اړتيا لري.
  - د اسانتياوو او سامانونو لپاره کمي ضرورت لري
  - په آسانۍ سره د ګلي يا رمي شمير زياتيدلي شي
- نواقص(نيمګړتياوي)
  - ډيري ځمکي ته اړتيا لري.
  - په کم يا لږ وخت کي يي پيسي په لاس نه راځي.
    - د خوراکي، منرال، وترنر ډاکټر فيس، او نورو ورځنيو ضرورياتو لپاره کافي بوديجي ته اړتيا ليدل کيږي.
  - قيمت ښايي چي په هغه وخت کي چي تاسي خوسکي پلورۍ کم وي

## **Cattle feeders’** د حيواناتو تغذيه کول

- فوايد(ګټي)
  - د توليد لپاره وخت يوازي له ٤-٦ مياشتو پوري وي
  - پيسي د بيا ځل لپاره په اسانۍ سره په لاس راځي.
- نواقص(نيمګړتياوي)
  - اساسي سرمايه يا پانګه يي لوړه ده
    - لوړه يا پورته خوراکه
    - د ساتني لپاره کور او سامانونه
  - زيات کارګر او موټر ته اړتيا يا ضرورت لري.
  - مارکيټونه يا بازارونه بدليدونکي وي.

## **Purebred breeders** خالص يا سوچه نسلونه

- ګټي
  - ګلو يا رمو ته جنتيکي انکشافات يا بهبود ورکوي
  - د حيواناتو د پلورلو لپاره لوړ قيمتونه ورکوي
- نواقص(نيمګړتياوي)
  - د حيواناتو لپاره کوم چي غوره جنتيک ولري نو د هغوي اساسي قيمت لوړ وي.

- د وخت ضایع کیدل
- د ریکارډ ساتل

WS: 1-1

## د غوښني لپاره په مارکيټ کي قيمت

رهنمايی(لارښوونه):
يوه منابع يا سرچينه پيدا کړئ چي هره ورځ د غوا د خوراکي او د غوا د غوښي لپاره د مارکيټ قيمت بررسي کړي. د دوه اونيو لپاره په دوه مارکيټونو کي د هري ورځي تجارتي قيمتونه په لاس راوړئ او د هغي دليلونه ريکارډ کړئ چي هره ورځ د مارکيټ لپاره ورکول کيږي. د دوه اونيو په پای کي، قيمت بررسي کړئ او همدارنګه هغه دلايل چي د قيمت لپاره صورت يي نيولي دي بررسي کړي، او د هغو فکتورونو په برخه کي بحث وکړئ کوم چي مارکيټ يي متاثره کوي.

| نيټه | د غوا د خوراکي قيمت | د حلالي شوي غوښي قيمت | د قيمت لپاره دلايل |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |